# دیولسم تولگي

# له تدريسي كتاب

# څخه پوښتني

دیزاین: الهام محمد شاه پیمان سیوند



۱۳۹۷

لیکونکی : سیلانی

www.haqiqat.se

# د یولسم ټولګي له تدریسي کتاب څخه

**.1 په پښتو ژبه کې لومړنی لاسته راغلی مناجات د چا دی ؟**

الف : امیر کروړ
ب : شیخ اسعد سوري
ج : ملکیار غرشین
د: بیټ نیکه

**.2 (( الله ( ج ) ته زاری او د څه غوښتلو )) لپاره کومه ادبي اصطلاح کارول کیږي ؟**

الف : مناجات
ب : نعت
ج : حمد
د: ټول ناسم

**.3 لاندې شعر دکوم شاعر دی؟**

*چې یې عرش او کرسی دواړه تر قدم دي بالاتر دی هسې شان قدم د زړه*
*دخلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه که آباد کا څوک ویران حرم دزړه*

الف : ګل پاچا الفت
ب: عبد الرحمن بابا
ج: حمید بابا
د: غني خان

**.4 په لاندې شعر کې د څه په مقام ستایل شوی؟**

*چې یې عرش او کرسی دواړه تر قدم دي بالاتر دی هسې شان قدم د زړه*
*دخلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه که آباد کا څوک ویران حرم دزړه*

الف : مور
ب : کعبې
ج : زړه
د : محمد ( ص )


**.5 په اسلامي دوره کې لو**

**.6 لومړنی کس چې دبیان دعلومو یا ادبي فنونو تتبیع یې په اسلامي نړۍ کې وکړه،څوک و؟**

الف : ابو عبیده مثنی
ب : عبد الله بن معتز
ج : عبدالروف بېنو
د : سمندر

**7. د بیان علم دچا له خوا وضع شو؟**

الف : ابو عبیده مثنی
ب : عبد الله بن معتز
ج : عبدالروف بېنو
د : سمندر



**8. په ادبي فنونو کې کومې برخې شاملې دي ؟**

الف : قافیه ،بدیع او بیان
ب : بدیع ، بیان او معاني
ج : بدیع ، بیان او عروض
د : ټول سم

**9. د (( بیان )) په پوهه کې له کومو موضوعات څخه بحث کیږي ؟**

الف : لفظي ، معنوي صنایع او تشبه
ب : استعاره او کنایه
ج : تشبیه، استعاره، کنایه او مجاز
د : ادبي ژانرونه ، عروض ، معاني او کنایه

**10. د (( بدیع )) په پوهه کې کومې برخې شاملې دي ؟**

الف : لفظي اومعنوي صنایع
ب : تشبیه ، کنایه او مجاز
ج : معاني او عروض
د :ټول سم

**11. بیان په لغت کې څه ته وایي ؟**


الف : پوهلو
ب: رامنځته کول
ج : کشف ، وضاحت او څرګندولو
د : الف اوب

**12. د معاني پوهې په برخه کې له کومو موضوعاتو بحث کیږي ؟**

الف: فصاحت
ب : بلاغت
ج : تشبیه
د : الف او ب

**13. (( بیان )) په اصطلاح کې څه ته وايي ؟**

الف : چې په مرسته يې يوه یا څو معناوې په داسې بېلابېلو لارو ادا شي چې دڅرګندتیا او ابهام له مخې ښکاره توپیر ولري .
ب : یو مطلب په څو لارو د رمز او کنايې په توګه وړاندې شي .
ج : یومطلب په څو لارو لوستونکو ته ته وړاندې کړي .



د: ټول ناسم

**.14**

**15. (( مجاز القران )) د چا اثر دی ؟**

الف : عبدالله بن معتز
ب : ابو عبیده مثنی
ج : عبدالروف بېنوا
د : ټول ناسم

**16. په پښتو ژبه کې د ادبي فنونو په هکله لومړنی اثر د کوم لیکوال له خوا لیکل شوی ؟**

الف : ابراهیم همکار
ب : عبدالشکور رشاد
ج : عبدالروف بېنوا
د : سمندر خان سمندر

**17. (( ورته والي او برابرولو )) ته د ادبي فنونو په پوهه کې کومه اصطلاح کارول کیږي ؟**

الف : مجاز
ب: کنایه
ج : بیان
د : تشبیه

**18. د تشبیه د تورو د راوړلو او نه راوړلو له مخې کومې څانګې لري ؟**

الف : مفروقه او ملفوفه
ب : مرسله او موکده
ج : جمع او تسویه
د : ټول ناسم

**19. (( یوه یا څومعناوې په بېلابېلو لاروڅرګندول،چې ښکاره توپیر یې تر منځ شتون ولري ))کومه پوهه ده ؟**

الف : مجاز
ب : مجاز
ج : کنایه
د : بیان

**20. په پښتو ژبه کې د تشبېه لپاره څو ارکان شتون لري ؟**

الف : څلور
ب : شپږ
ج : درې
د : پنځه

**21. موکده تشبېه کوم ډول تشبېه ته وایي ؟**

الف : چې د تشبېه توري پکې راوړل شوي وي .
ب : چې د تشبېه توري پکې نه وي راوړل شوي .
ج : چې مشبه تر مشبه به قوي یا ځواکمنه راغلې وي .
د : چې مشبه به تر مشبه قوي راغلې وي .

**22. (( بل شي سره د یو څیز ورته کولو )) ته د تشبېه په پوهه کې کومه اصطلاح کارول کیږي ؟**

الف : مشبه
ب : مشبه به
ج : وجه تشبېه
د : د تشبېه عرض

**23. (( مفصله او مجمله )) د تشبېه له کوم ډول وېشنې څخه دی؟**

الف : د وجه شبه د ر ا وړلو اونه راوړلو له مخې .
ب : د طرفینو د موقیعت له مخې .
ج : د تشبېه د تورو د راوړلو او نه راوړلو له مخې .
د : ټول ځوابه ناسم دي .

**24. په لاندې بیت کې مشبه او مشبه به په نښه کړئ .**

*هېڅ مې نه زده محبت که اور دی دا*        *په اور سوځم په رضا که زور دی دا*

الف : اور مشبه او محبت مشبه به
ب : محبت مشبه او اور مشبه به

ج : شاعر مشبه او  اور مشبه به
د :   اور مشبه او زور مشبه به

**25.   مشبه به څه ته وايي ؟**

الف : د یوبل شي ورته کول له اصلي څیز سره
ب : د یو څیز ورته کول له بل څیز سره
ج : د مشبه او مشبه به ترمنځ مشترک صفتونه
د : ټول ناسم

**26.   په لاندې بیت کې مشبه به په نښه کړئ .**

*چې ریبي مې بې صرفي د زړګي ولې          کړې وروځې دې د یار که لور دی دا*

الف :  وروځې
ب :  ولې
ج : لور
د : زړه

**27.   په لاندې بیت کې مشبه به په نښه کړئ .**

*الهي د محبت سوز وګداز را          په دا اور کې د سهي سمندر ساز را*

الف : محبت
ب : اور
ج : سمندر
د : سهي

**28.   (( د مشبه او مشبه به تر منځ مشترک صفتونو))  ته څه وايي ؟**

الف  : دتشبیه عرض
ب : دتشبیه وجه
ج : د تشبیه توري
د : مشبه

**29.   لاندې بیت کې د تشبېه د ارکانو څخه ( (وجه تشبیه )) په نښه کړئ.**

*د بادام په څېر مې زړه سوری سوری شي          چې را پورته په غمزه سترګو بانه کړې*

الف :  په څېر
ب :  سوری سوری کېدل
ج : زړه
د : بادام

**.30 لاندې بيت کې دتشبيه توري په نښه کړئ .**

*آينې غوندې خوله پټه سوال جواب کړه* — *مناسب نه دی اشنا ته رسوا عرض*

الف : غوندې

ب : مناسب

ج : شاعر

د : آينه

**.31 (( هغه مطلب او مقصد چې له تشبيه څخه اخستل کيږی. )) کومه اصطلاح ورته کارول کيږي.**

الف : د تشبيه وجه

ب: د تشبيه توري

ج : د تشبيه ارکان

د : د تشبيه غرض

**.32 د طرفينود موقيعت له مخې تشبيه په څو ډوله ده ؟**

الف : دوه ډوله

ب : څلور ډوله

ج : دوه او څلور ډوله

د : ټول سم

**.33 (( مفروقه او ملفوفه )) د تشبيه له کوم ډول څخه دی ؟**

الف : وجه تشبيه له مخې

ب : د ارکانو له مخې

ج : ابتذال او ندرت له مخې

د : ټول ناسم

**.34 (( په يوه بيت يا نيم بيتي کې د هرې مشبه ترڅنګه د مشبه به راتلل )) کوم ډول تشبيه ده ؟**

الف : ملفوفه

ب : نادره

ج : مفروقه

د : مبتذله

**.35 په لاندې بيت کې کوم ډول تشبيه کارول شوې ؟**

*لال دې شونډې ، غاښ مرغلرې* — *خوله دې غو نچه قند دې خبرې*

الف : نادره

ب : موکده

ج : مجمله

د: مفروقه

**.36 مفروقه تشبېه کوم ډول تشبېه ده؟**

الف : چي په یوه مسره یا بیت کي مشبه او په بله مسره یا بیت کي مشبه به راغلي وي.

ب : مشبه او مشبه به دواړه په یوه مسره کي راغلي وي

ج : مشبه او مشبه به دواړه په یو بیت کي راغلي وي

د : ټول ناسم

**.37 لاندې بیت کي کوم ډول تشبېه کارول شوې ؟**

*تورو زلفو ته یې ګوره ښایسته دواړه رخساره     د جهان په باغ کي نشته سنبل هسي سمن هسي*

الف : موکده

ب : مجمله

ج : نادره

د : ملفوفه

**.38 د ابتذال او ندرت له مخې تشبېه په کومو ډولونو وېشل کېږي ؟**

الف : نادره او مبتذله

ب: مجمله مفصله

ج : مفروقه ملفوفه

د : موکده او موسله

**.39 نادره تشبېه کوم ډول تشبېه ته ویل کېږي ؟**

الف : چي په شاعرانو کي لږ کارول شوي وي .

ب : چي په شاعرانو کي ډېر کارول شوي وي .

ج : چي شاعرانو هېڅ نه وي کارولي.

د : ټول سم

**.40 لاندې بیت کي کوم ډول تشبېه کارول شوې ؟**

*چي یې خال په مخکي وینم حیرانېږم     په جنت کي ولې ږدي عاصي یو ګام*

الف : مجمله :

ب : عادي

ج : موکده

د : نادره

**.41 (( هغه تشبېه چي شاعرانو په خپلو شعرونو کي ډېر کارولي وي ) کوم ډول تشبېه ده ؟**

الف :  مفروقه

ب : ملفوفه

ج : نادره


د : مبتذله

**42. په لاندې بیت کې کوم ډول تشبېه کارول شوې، یوازې یې په نښه کړئ .**

*مخ دې لکه ګل صنم            زلفې دې سنبل صنم*

الف :  مبتذله

ب : نادره



ج : عادي

د : غیر عادي

**43. (( پښتني مېرمنې )) د چا اثر دی ؟**

الف : ګل پاچا الفت

ب : عبدالروف بېنو ا

ج : قیام الدین خادم

د : سید شمس الدین مجروح

**44. (( زموږ غازیان )) د چا اثر دي ؟**

الف :  غلام محمد غبار

ب: محمد ولي ځلمی

ج : بېنوا

د : ټول ناسم

**45. (( ملاله )) د کومې جګړې تله وه ؟**

الف : خیبر

ب : میوند

ج : لومړی

د :ټول سم

**46. د میوند د جګړې مشرتوب دچا په غاړه و؟**

الف :  وزیر محمد اکبر خان

ب: ایو ب خان

ج : نادر خان

د :  صالح محمد خان

**47. په لاندې بیت کې کوم  ډول تشبېه کارول شوې ده ؟**

*د دنیا مثال که وګورې عاقله                 په حساب لکه اوبه یا لکه باد دی*

الف : جمع

ب : تسويه

ج : عادي

د : غير عادي

**48. د غرض له مخې تشبيه كوم ډولونه لري ؟**

الف : عادي او مجمله

ب : مفضله او عادي

ج : عادي او غير عادي

د :ټول ناسم



**49. (( افغانستان در مسير تاريخ )) دچا اثر دي ؟**

الف : مير غلام محمد غبار

ب : ظاهر طنين

ج : عبدالحی حبيبي

د: متين فرهنګ

**50. (( افغانستان)) دچا اثر دي ؟**

الف : ډورن

ب : راوټي

ج : لويس دوپرې

د : ډار مستيټر

**51. (( ملاله )) د کومې سميمي اوسېدونکې وه ؟**

الف : کندهار

ب : ميوند ( کشک نخود )

ج : فراه

د : هرات

**52. نثر په لغت څه ته وايي؟**

الف : پاشلو ته

ب : د ملغلرو پيېلو ته

ج : ديو نوي شي را منځته کول ته

د : ټول سم

**53. نثر د شکل له مخې کوم ډولونه لري ؟**

الف : ساده او هنري
ب : فني او لسي ساده
ج : مرسل او ولسي ساده
د: حماسي  او ملي

**54. د طرز اوليکنې له مخې نثر کوم ډولونه لري ؟**

الف : فني  نثر ، مرسل او ساده ولسي کتې متې.
ب :  حماسي او ملي نثرونه
ج : هنري او ساده  نثرونه
د : ټول ناسم

**55. (( چې د يوه مشبه لپاره څومشبه به راغلي وي )) کوم ډول تشبيه ته ويل کيږي ؟**

الف : تسويه
ب : جمع
ج : مفروقه
د : ملفوفه

**56. (( فني نثر ))  کوم ډول نثر ته وايي ؟**

الف : چې د ولس ناخوالي يې په کې ذکر کړي وي.
ب : چې شاعر خپل احساسات پکې را ونغاړي .
ج : چې د ولس له خولي يې کتې متې را واخلي.
د : چې حماسي رنګ ولري .

**57. (( لنډه کيسه ،ډرامه ،ناول او رومان )) د نثر له کوم ډول څخه دي ؟**

الف : ساده ولسي
ب : هنري
ج : فني
د : مرسل

**58. ډرامه د کومې کلمې څخه اخستل شوې ؟**


الف : فرانسوي
ب : آريايي
ج : يوناني
د : جرمني

**59. د ډرامې کلمه څه معنا لري ؟**

الف :  عمل او فعل
ب : خوند اخستل
ج :  خواخوږي
د :  ټول ناسم

**60.  د جوړښت له مخې ډرامه کوم ډولونه لري ؟**

الف :  ستېج ډرامه
ب : راډيوي ډرامه
ج : تلويزيوني ډرامه
د : ټول سم



**61.  د منځپانګې له مخې ډرامه کوم ډولونه لري ؟**

الف : تراژيډي او کوميډي
ب : راډيويي اوتلويزوني
ج : راډيويي او ستېج
د : تلويزوني

**62.  د ډرامې پيل له کوم هېواد څخه شوی ؟**

الف : مصر
ب :  انګلستان
ج : يونان
د: آريانا

**63.  دماهيت له مخې تشبېه په څو برخو وېشل کيږي ؟**

الف : درې برخو
ب : څلور برخو
ج : شپږ برخو
د :  هېڅ يو

**64.  (( درې يتيمان )) د چا اثر دی ؟**

الف : بېنوا
ب :  سيد راحت زاخيلي
ج :عبدلاکبر خان اکبر
د: حبيبي

**65.  په لاندې بيت کې کوم ډول تشبېه کارول شوې ده ؟**

*عاشقان په معشوقو باندې پتنګ دي          له جهانه په ولاړ نشي دا  دستور*

الف : محسوسه له محسوسي سره
ب : معقوله له معقولوې سره
ج : محسوسه له معقولې سره
د: ټول ناسم

**66. پښتو ژبه کې لومړنۍ ډرامه په کوم کال ولیکل شوه ؟**

الف : ۱۹۲۷ م
ب : ۱۹۹۴ م
ج : ۱۹۱۹ م
د : ۱۸۶۶ م

**67. په پښتو ژبه کې کوم لیکوال ته د لومړني ډرامه لیکوونکي ویاړ ورپه برخه شوی ؟**

الف : سید راحت زاخیلي
ب : بېنوال
ج : حبیبي
د : عبدلاکبر خان اکبر

**68. د پښتو ژبې لومړنۍ ډرامه په څه نوم یادېده ؟**

الف : کونډه انجلۍ
ب : درې یتیمان
ج: پښتنه مېرمن
د : ورکه مینه

**69. د (( وینو جام )) اثردي ؟**

الف : اسلم ختک
ب: میا اکبر شاه
ج : قیام الدین خادم
د : ټول ناسم

**70. د لاندې بیت تشبیه په نښه کړئ ؟**

*زویه پلار سره کارونه د غلیم کا*      *لونه مورته لکه بنې دي تیارې*

الف : تسویه
ب : ملفوفه
ج : مفروقه
د : محسوسه له محسوسي سره

**71. (( د وینو جام )) ډرامه په کوم کال ولیکل شوه ؟**

الف : ۱۹۳۰ م
ب : ۱۹۳۵ م
ج :۱۸۳۵ م
د : ۱۹۴۴ م

**72. لاندې کومه ډرامه له اردو ژبې څخه پښتو ژبې ته را ژباړل شوې ؟**

الف : د قرطبې قاضي
ب : د وینس سوداګر
ج : مکبت
د : ویلسون

**73. لاندې کومې ډرامې له انګریزي ژبې څخه پښتو ژبې ته را ژباړل شوې ؟**

الف : د قرطبې قاضي
ب : د وینس سوداګر
ج : مکبت
د : ب او ج

**74. په لاندې لیکوالو کې کوم لیکوالان د برې پښتونخوا د ډرامې لیکوالان دي ؟**

الف : بېنوا
ب : عبدالمنان ملګرى
ج : حبیبي
د : تول سم

**75. لاندې لیکوالو کې کوم لیکوال د کوزې پښتونخوا د ډرامې لیکونکي دي ؟**

الف: عبدالله جان اسیر
ب : حمزه بابا
ج : عبدالخالق خلیق
د : ټول سم

**.76**

**77. (( دکلو رنځور )) د چا لیکلې ډرامه ده ؟**


الف : حبیبي
ب : بېنوا
ج : عبدالمنان ملګرى
د : حمزه بابا

**78. ډرامه څو برخې لري ؟**

الف : دوه
ب : پنځه
ج : درې
د : شپږ

**79. دمنځنۍ دورې پیل د کوم ادبي مکتب په واسطه شوی ؟**

الف : د ختېکو
ب : روښانیانو
ب : رحمان بابا
د : حمید بابا



**80. د روښانیانو ایدلوژي د شکل په له پلوه کومه بڼه درلوده ؟**

الف : ملي
ب : حماسي
ج : ملي او وطني
د : عرفاني اوتصوفي

**81. بایزید روښان د چا زوی و؟**

الف : قاضي عبدالله
ب : شیخ محمد
ج : اخوند درویزه
د : محمد عارف

**82. بایزید روښان په قوم څوک و؟**

الف : انصاري
ب : اورمړ
ج : افغان
د : تول سم

**83. بایزید روښان څو کاله په کور کې ریاضیت وکړ؟**


الف : درې کاله
ب : پنځه کاله
ج : شپږ کاله
د : لس کاله

**84. بایزید روښان د کومې ژبې په لیکنه کې خاص سبک لري ؟**

الف : پښتو
ب : پنجابي
ج : اردو
د : فارسي

**.85 روښان خپل نثر په کوم ډول ليکه ؟**

الف : ساده
ب : مرسل
ج : ولسي
د : مسجع



**.86 مخزن الاسلام په کوم کال وليکل شو؟**

الف : ۱۰۱۵ ه.ق
ب : ۱۶۰۵ م
ج : ۱۱۳۰ ه.ق
د : الف اوب

**.87 (( مخزن الاسلام )) له کومه پلوه له خيرالبيان سره مخالفت کې و؟**

الف : دليکلو
ب : د موضوع
ج : د ژبې
د : ټول سم

**.88 خيرالبيان په څو ژبو ليکل شوی ؟**

الف : شپږ
ب : پنځه
ج : څلور
د : درې

**.89 خيرالبيان د چا اثر دی ؟**


الف : اخوند درويزه
ب : ميرزا خان انصاري
ج : دولت لوانۍ
د : بايزيد روښان

**.90 په لاندې اثارو کې د بايزيد روښان اثار په نښه کړئ .**

الف : مقصودالمومنين
ب : صراط التوحيد
ج : فخرالطالبين
د : تول سم

**91. (( مقصود المومنين )) په کومه ژبه لیکل شوی ؟**

الف : فارسي
ب : عربي
ج : اردو
د : پښتو



**92. (( صراط التوحید )) په کومه ژبه لیکل شوی ؟**

الف : فارسي
ب : عربي
ج : اردو
د : پښتو

**93. روښاني غورځنګ دمحتوا له پلوه کومه بڼه درلوده ؟**

الف : حماسي
ب : ملي
ج : عرفاني
د : تول سم

**94. بایزید روښان په کوم کال زیږېدلی ؟**

الف : ۹۲۷ ه. ق
ب : ۹۲۹ ه.ق
ج : ۹۲۶ ه. ق
د : ۹۳۱ ه.ق

**95. بایزید د تصوف په برخه کي کوم کس ته عقیدت مند و؟**

الف : اخوند درویزه
ب : خواجه اسمعیل
ج : قاضي عبد الله
د: سید علي ترمزي

**96. (( محزن الاسلام )) د چا اثر دی ؟**

الف : نعمت الله هېروي
ب : قيام الدين خادم
ج : بايزيد روښان
د : اخوند درویزه

**97. بایزید روښان کومې قبیلې ته منسوب و؟**

الف : اورمړ
ب : انصاري
ج : روښاني
د : ټول سم

**98. بایزید روښان په څو ژبو پوهېده ؟**

الف : درې
ب : څلور
ج : پنځه
د : شپږ

**99. په پښتو ژبه کې د مسجع نثر بنسټ اېښودونکی څوک دی ؟**

الف : سلیمان ماکو
ب : شېخ اسعد سوري
ج : بایزید رښان
د : اخوند درویزه

**100. خیرالبیان په څو ژبو لیکل شوی ؟**

الف : درې
ب : پنځه
ج : دوه
د : څلور

**101. بایزید روښان په کوم کال ومړ ؟**

الف : ۹۸۵ م
ب : ۹۸۳م
ج : ۹۶۳ م
د : ټول ناسم

**102. د روښان ملي مبارزې څو کاله دوام درلود ؟**

الف :  ۱۲۰

ب :  ۱۶۰

ج : ۲۰۰

د: ۱۵۰

**103. د خير البيان مضامين څه ډول و؟**

الف : ملي او حماسي

ب : ديني ، تصوفي او عرفاني

ج : عشقي

د : ټول سم

**104. د روښاني غورځنګ روستنی کس څوک و؟**

الف :  جلال الدين

ب : قادر داد

ج : کريمداد

د : دولت لوانی

**105. د بايزيد روښان د نهضت روستی سياسي لاربنود د کوم هندي واکمن په وړاندې د خپلواکی د ساتلو مبارزې کولې ؟**

الف : بابر

ب : شاجهان

ج :  اورنګ وزيب

د : جلال الدين

**106. روښاني طريقي په کومو سيمو کي پيروان درلودل ؟**

الف : هند

ب : افغانستان

ج : پښتونخوا

د : ټول سم

**107. بايزيد روښان په کومه سيمه کي وزيږېد ؟**

الف : پنجاب

ب : جلندر

ج : اور مړ او برکي


د : ټول سم

**108. بايزيد روښان د چا لخوا د پير تاريک په نامه نومول شوي و؟**

الف : شېخ محمد
ب : قاضي عبدالله
ج : خونددرويزه
د : ټول ناسم

**110. يو دولت د څو رکنونو درلودونکی وي ؟**

الف : درې
ب : دوه
ج : څلور
د : پنځه



**111. په افغانستان کې مطبعه د لومړي ځل لپاره د کوم پاچا په وخت کې رامنځته شوه؟**

الف : امير حبيب الله خان
ب : امان الله خان
ج : عبدالرحمن خان
د : شېرعلي خان

**112. په افغانستان کې کومې جريدې د لومړي ځل لپاره خپروني وکړې ؟**

الف : مرتضاوې
ب : مصطفاوې
ج : شمس النهار
د : ټول ناسم

**113. د امير حبيب الله خان په وخت کې کومې جريدې خپلې خپروني پيل کړې ؟**

الف : سراج الاخبار افغانيه
ب : امان افغان
ج : سراج الاخبار افغانستان
د : مرتضاوې

**114. دکومې جريدې په پيل سره په افغانستان کې د دوامداره ژورنالېزم د پيلامې لامل شو؟**

الف : سراج الاخبار افغانيه
ب : شمس النهار
ج : امان افغان
د : ټول ناسم

**115. د (( سراج الاخبار افغانيه )) جريدې بنسټ ايښودونکی څوک و؟**

الف :  عبدالهادي داوي
ب :  محمود طرزي
ج : شیرعلی خان
د : محمد جعفر

**116.  د (( سراج الاخبار افغانيه )) بنسټ په کوم کال کېښېښودل شو؟**

الف :  ۱۲۹۰ ه ش
ب : ۱۹۱۸  م
ج : ۱۹۱۹ م
د : ټول ناسم

**117.  کومې جريدې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د ښځو لپاره خپرونې پيل کړې ؟**

الف : ستاره افغان
ب : طلوع افغان
ج : ارشاد النسوان
د : اتفاق اسلامي

**118.  د افغانستان راديو دلومړي ځل لپاره په کوم خپلې خپرونې پيل کړې ؟**

الف :   ۱۳۱۸  لمرېز
ب :  ۱۳۱۹ لمريز
ج : ۱۳۰۶ لمريز
د : ۱۳۲۶ لمريز

**119. د افغانستان تلويزوني دستگاه د لومړي ځل لپاره په کوم کال خپلې ازمايښتي خپرونې پيل کړې؟**

الف : ۱۳۱۴ ه ش
ب : ۱۳۵۷ ه ش
ج : ۱۳۲۶
د : ټول ناسم

**120.  (( باختر اژانس )) په کوم کال را منځته شو ؟**


الف : ۱۳۲۹ هـ ش
ب : ۱۳۴۳ هـ ش
ج : ۱۲۹۹ هـ ق
د : ۱۳۱۹ هـ ش

**121.  په افغانستان کې مطبعه د لومړي ځل لپاره د اميرشېرعلي خان په کومه دروه کي رامنځته شوه؟**

الف : دویمه
ب : لومړی
ج : دریمه
د : ټول ناسم

**122. په افغانستان کې د چاپ پیلامه د کومو مطبعو څخه پیل شوې ؟**

الف : مصطفاوې
ب : مرتضاوې
ج : شمس النهار
د : ټول سم



**123. شمس النهار جریده تر څو ګڼو زیاته چاپ نشوه ؟**

الف :۳۰
ب : ۴۰
ج : ۶۰
د : ۶۲

**124. د (( سراج الاخبار افغانستان )) جریده د چال له خوا اداره کېده ؟**

الف : عبدالروف بېنوا
ب : محمود طرزي
ج : عبدالروف خاکي کندهاري
د : هېڅ یو

**125. د کومې جرېدې د چاپ لومړی ګڼه د هغه د چاپ روستی ګڼه شوه ؟**

الف : سراج الاخبارافغانستان
ب : انیس
ج : طلوع افغان
د : امان افغان

**126. د (( د سراج الاخبار افغانیه )) بنسټ په کوم کال کېښودل شو؟**


الف : ۱۹۱۱ م
ب : ۱۲۹۰ ه.ش
ج : ۱۲۹۸ ه.ش
د : الف او ب

**127. نحوه څه ډول پوهنه ده ؟**

الف : هغه پوهنه ده چې د جملو، فقرو عبارتونو او ترکيبونو د جوړښت له قاعدو څخه بحث کوي .
ب : هغه کلمې دي چې له خپلواکو او ناخپلواکو کلمو څخه رغېدلي وي .
ج : هغه پوهه ده چې په يوه ژبه کې کلمې تر څېړنې لاندې نيسي .
د : ټول سم

**128. تګميم کوم ډول واحد دی ؟**

الف : نحوي کوچني واحد دی .
ب : ګرامري واحد دی .
ج : صرفي واحد دي .
د : ترکيبي واحد دی .



**129. جمله ( غونډله ) يو ستر**

الف : ګرامري واحد دي .
ب : نحوي واحد دی.
ج : صرفي واحد دی .
د : ټول ناسم .

**130. ترکيب څه ډول جوړېدلای شي ؟**

الف : له دوو خپلواکو او ناخپلواکو کلمو له يوځای والي څخه منځته راځي .
ب : له دوو خپلواکو او ناخپلواکو کلمو له يوځای والي څخه منځته راځي، چې اجزاوې يې سره اړيکې ولري .
ج : له دوو جملو څخه منځته راځي .
د : له ساده او مرکبې جملې څخه منځته راځي .

**131. ترکيب څو ډولونه لري ؟**

الف : دوه
ب : څلور ډوله
ج : پنځه ډوله
د : دري ډوله

**132. (( د احمد قلم )) کوم ډول ترکيب دي ؟**

الف : فعلي
ب : نوموال
ج : نوموال اضافي
د : ثابت

**133. (( خوږ ختکی )) کوم ډو ترکيب دي ؟**

الف : عددي

ب : توصيفي

ج :   اضافي

د : فعلي


**134.  (( درې قلمونه )) کوم ډول ترکيب دي ؟**

الف : تکراري

ب : قيدي

ج : فعلي

د : عددي



**135.  (( کار کول )) کوم ډول ترکيب دي ؟**

الف : فعلي

ب: نوموال

ج : تکراري

د : اضافي

**136.  نوموال ترکيب کوم ډول ترکيب ته ويل کيږي ؟**

الف :  چې د جوړښت اصلي برخه يې فعل وي

ب : چې د جوړښت اصلي برخه يې  ادات وي .

ج : چې د جوړښت اصلي برخه يې نوم وي .

د : چې د جوړښت اصلي برخه يې ستاينوم وي .

**137.  (( دجوړ ښت اصلي برخه يې فعل وي )) کوم ډول ترکيب ته ويل کيږي ؟**

الف :  اسمي

ب : ثابت

ج : غير ثابت

د : فعلي

**138.  نظم په لغت کې څه ته وايي ؟**

الف : د ملغلرو پيیلوته وايي .

ب :  پاشلو ته وايي .

ج : د يو نوي شي رامنځته کولو ته وايي ؟


د : ليکلو ته وايي.

**139.  په پښتو ژبه کې لومړنۍ لاسته راغلي قصيده د چا ده ؟**

الف : ښکارندوی
ب : خوشحال خان
ج : شېخ اسعد سوري
د : ټول ناسم

**140. (( چې وزن او قافیه ولري )) څه ته ویل کېږي ؟**

الف : نثر
ب : نظم
ج : املا
د : انشا



**141. شېخ اسعد سوري په کوم کال ومړ ؟**

الف : ۲۴۵ ه
ب : ۴۲۵ هـ
ج : ۵۵۳ هـ
د : ۳۶۷ هـ

**142. شېخ اسعد سوري د چا په مړینه قصیده ویلې ؟**

الف : سلطان محمود غزنوي
ب : امیر محمد سوري
ج : شېرشاه سوري
د : ټول ناسم

**143. قصیده څو برخې لري ؟**

الف : دوه
ب : پنځه
ج : درې
د : څلور

**144. د قصیدې د بیتونو شمېر څومره وي ؟**

الف : ( ۵ – ۱۶ )
ب : ( ۱۸ - ۲۰۰ )
ج : ( ۴ - ۱۸ )
د : ( ۱۶ – ۲۰۰ )

**145. پښتو ادبیاتو ته قصیده څه وخت را دننه شوې ؟**

الف : مخکې له اسلامه

ب : روسته له اسلامه

ج : منځنۍ دوره

د : اوسنۍ دوره


**146. پښتو ادبيات په څو دورو وېشل کيږي ؟**

الف : څلور

ب : درې

ج : پنځه

د : ټول ناسم



**147. د پښتو ادبياتو منځنۍ دوره له کومې پېړۍ څخه پيلېږي ؟**

الف : د لسمي هجري پېړۍ له نيمايي څخه پيلېږي .

ب : د دولسمي هجري پېړۍ څخه پيلېږي .

ج : د لسمي هجري پېړۍ له پيل سره .

د : د څوارلسمي هجري په دويمه نيمايي کې .

**148. د پښتو ادبياتو دويمه دوره تر کومې پېړۍ پورې رسي ؟**

الف : د شپاړسمي تر دويمي لسيزې پورې

ب : په پنځلسمي پېړۍ کې .

ج : په اتلسمي پېړۍ کې .

د : د څوارلسمي هجري پېړۍ تر لومړۍ دريو لسيزو پورې .

**149. (( نور نامه )) د چا اثر دي ؟**

الف : پير محمد کاکړ

ب : اخوند ميا داد

ج : شيخ محمد

د : ټول ناسم

**150. خوشحال خان خټک اثر دستار نامه په کوم ډول ليکلی ؟**

الف : نثر

ب : نظم

ج : مسجع نثر

د : مثنوي

**151. (( نازو انا )) د کوم ملي مشر مور وه ؟**

الف :   احمد شاه بابا
ب : میرویس نیکه
ج : وزیر اکبر خان
د : خوشحال خان

**152.  (( محمود نامه )) د چا اثر دي ؟**

الف :   شاحسین
ب : ریدخان  مومند
ج :  محمد امین
د : محمد هوتک

**153.  (( جګړه د محمود افغان او نیول د اصفهان ))  څه ډول اثر دي ؟**

الف : داستاني
ب : حماسي
ج : عشقي
د : ښوونیز

**154.  پټه خزانه په څو برخو وېشل شوې ؟**

الف : څلور
ب : درې
ج : پنځو
د : شپږ

**155.  په پښتو ژبه کې دهندي سبک پیلونکی کوم شاعردی ؟**

الف :  رحمان بابا
ب : خوشحال خټک
ج : کاظم خان شیدا
د : حمیدبابا

**156.  (( معرفته الافغاني )) د چا اثر دی ؟**


الف :  حمید بابا
ب : دولت لوانی
ج : اخوند درویزه
د : پیر محمد کاکړ

**157.  پروین رفعت  دکومې سمې شاعره وه ؟**

الف :   کوزې پښتونخوا
ب : بره پښتونخوا
ج : مشرقي
د : مرکز

**158.  پروین رفعت په کوم کال دې نړۍ ته سترګې وغړولې ؟**

الف :  ۱۹۴۹ م
ب : ۱۹۳۹ م
ج : ۱۹۵۹ م
د : ۱۹۶۰ م



**159.  چپه پېښ یا کامه د څه شي لپاره کارول کیږي ؟**

الف : ډېر ځنډ لپاره
ب : لږ ځنډ لپاره
ج : د مخففاتو لپاره
د : ټول سم

**160.  کوم نښه د زیاتي دمې لپاره کارول کیږي ؟**

الف :  ټکي او کامه
ب : سمي کولن
ج : ځنډنۍ
د : ټول سم

**161.  دا نښه ( : ) کومه نښه ده ؟**

الف :  د یوې کلمې د سپړلو او بیان نښه ده .
ب :  د هغې کلمې په پای کې لیکل کیږي، چې روسته ورپسې شرحه راغلي وي .
ج :  الف او ب
د : ټول ناسم

**162.  لاندې کوم شاعر د پښتو له پنځو ستورو څخه شمېرل کیږي ؟**

الف :  حمزه بابا
ب : خوشحا ل خان ختټک
ج : رحمان بابا
د : قیام الدین خادم

**163.  قیام الدین خادم په کوم کال دې نړۍ ته سترګې وغړولې ؟**

الف :   ۱۳۲۵ ه .ق
ب : ۱۹۰۷ م
ج : ۱۳۳۵ ه ق
د : الف او ب

**164.  (( روهي ګلونه )) د چا اثر دي ؟**

الف: ګل پا چا الفت
ب : عبدالروف بېنوا
ج : خادم
د : رښتين

**165.**

**166.  قيام الدين خادم خپله لومړنۍ دنده د څه شي په توګه پيل کړه ؟**

الف : مدير
ب: ښوونکي
ج : ريس
د : د پارلمان وکيل

**167.  د قيام الدين خادم لومړنۍ شعري ټولګه په اتحاد مشرقي کې په کوم نوم خپره شوه ؟**

الف : پښتنه مېرمنه
ب: د نېکونو ياد
ج : شه بيدار پښتونه
د : ټول ناسم

**168.  قيام الدين خادم په کوم کال ومړ؟**

الف :  ۱۲۵۸ ه ش
ب : ۱۳۵۸ هـ ش
ج : ۱۳۶۸ هـ ش
د : ۱۲۶۸ هـ ق

**169.  په لاندې اثاروکې کوم اثارو قيام الدين ته منسوب دي ؟**

الف : خيالي دنيا
ب : د ماشومانو اخلاقي پالنه
ج : د مرغلرو امېل
د : ټول

**170.  په پښتو ژبه کې څو مشهور ادبي مکتبونه شتون لري ؟**

الف : پنځه

ب : شپږ

ج : څلور

د : درې

**171. سبک په لغت کې څه ته وايي ؟**

الف : د سرو او سپينو زرو ويلې کول او په قالب کې چولو ته وايي .

ب : دنوي شي را منځته کولو ته وايي .

ج : په خپله شاعر دی

د : ټول ناسم

**172. (( په يو ټا کلي تاريخي دوره کې د يو ډلې ليکوالانو له خوا د يوې کړنلارې اپښودل او د نورو شاعرانو له خو اد هغه تعقيبېدلو ته )) کوم اصطلاح کارول کيږي ؟**

الف : ادبي مکتب

ب : سبک

ج : ادبي غورځنګ

د : املا اونشا

**173. چارلي چاپلين د کوم هېواد ليکوال و؟**

الف : سويزلند

ب : فرانسه

ج : آلمان

د : انګلستان

**174. ارزانی خويشکی د کوم ادبي مکتب پيرو و؟**

الف : رحمان بابا

ب : حميد بابا

ج : روښانيانو

د : ختکو

**175. ارزاني خېل ټول عمر په کوم هېواد کې تېر کړ؟**

الف : لندن

ب : پېښور

ج : افغانستان


د : هند

**176. په لاندې شاعرانو کې دکوم شاعر ديوان ( ۶۰۰۰ ) بيته لري ؟**

الف : بایزید روښان
ب : حمید بابا
ج : رحمان بابا
د : ارزاني

177. (( مرات المحققين )) د کوم ليکوال اثر دي ؟

الف : ارزانی
ب : دولت
ج : بایزید روښان
د : ټول ناسم



178. ارزانی د کوم ځای اوسېدونکی و؟

الف : هند
ب : د پنجاب د قصور
ج : پېښور
د : افغانستان

179. ارزانی په کوم کال ومړ ؟

الف : ۱۰۲۸ هـ
ب : ۱۲۳۴ هـ
ج : ۱۵۲۳ م
د : الف اوب

180. (( تفسير يسير)) د چا اثر دی ؟

الف : سید جما الدين
ب : ابن سينا
ج : مراد علي صاحب زاده
د : ټول ناسم

181. په پښتو ژبه کې لومړنی ښځینه شاعره چې نوم او د شعر بېلګه يې را پاتې ځوک ده ؟


الف : زرغونه انا
ب : مېرمن رابعه
ج : مېرمن نېکبخته
د : زرغونه کاکړه

182. ارشاد الفقرا د چا اثردی ؟

الف : مېرمن سایره
ب : حاذقه هروي
ج : مېرمن نېکبخته
د : مېرمن حمیده

**183. حاذقه هروي دکومې سیمې اوسېدونکې وه ؟**

الف : کندهار
ب : لغمان
ج : پېښور
د : هرات



**184. یوهان ولفانګ فون ګویته د کوم هېواد لیکوال او شاعر و؟**

الف : فرانسه
ب : جرمني
ج : آلمان
د : ب او ج

**185. د بشري حقونو په هکله لومړنی موجود سند دچا و؟**

الف : جان لاک
ب : افلاطون
ج : سقراط
د : ګالیله

**186. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه په کوم کال تصویب شوه ؟**

الف : ۱۹۴۶ م
ب : ۱۹۴۷ م
ج : ۱۹۴۸ م
د : تول ناسم

**187. د بشر نړیواله اعلامیه څو مادي لري ؟**

الف : ۵۰
ب : ۳۰
ج : ۴۰
د :

ترتیبوونکی : تمهید الله (( سیلاني ))




Griffin MANAGEMENT
Dictionary
Oxford

Download from:aghalibrary.cm

۱۳۹۷

لیکونگی : سیلانی

www.haqiqat.se